**اندېښ شمس القمر**

هــره ادا دې د ســپرلي د ګــل ثــاني راغلــه
زړۀ تــه مــې ستا د يــاد د حُسـن پرېـواني راغلـه
بيــا د وفــا د طمعــې جـام اخلمـه يـار لـه ځمـه
پــه سر مــې بلــه شــپه د مينــې ارمــاني راغلــه
کوم خوا چې خلق وو د کلي يو کېدو له روان
پــه هغــه لــور بانـدې سـېلۍ د ځـان ځـاني راغلـه
اوس بــه زۀ چــپ لګــه د بُـت درتــه ولاړ نــۀ يمـه
ستــا د ښائسـت د صـحيفې ثنـاء خـواني راغلـه
زۀ بــه دا زمکــه د جنـت د بــاغچو سيـاله کړمـه
کۀ پــه خپـل ځـان بانـدې پـه خپلـه دهقـاني راغلـه
هـر قــدم بــل قـدم کښــې ونــګ د همـت واچولـو
پــه خپلــه لار نــۀ ستــوماني، نــۀ پښــېماني راغلــه
وفــا ئــې چــا لــه امانتــه کړلــه خـدائے خبـر
د جفــا برخــه چــې جــولۍ لــه امــاني راغلـه
څــۀ ترغــوني د ماښــام څــۀ د ســحر خــره
هــره ګــړۍ زمــونږ پــه وينــو الــواني راغلــه
زمــونږ پــه سـر خــو ئـې تابيــا د وداني پرتـه ده
دې کښـــې خبـره څــۀ د کلــي د ورانــي راغلــه
اخــر دا ولــې د يــو بــل د وينــې تــږي شــو مــونږ
اخـر پــه څــۀ د ورور پــه ورور بـد ګمـاني راغلـه
د اميد سترګې مې په لار څارلو سپينې شولې
پــه باچــايۍ بانــدې ســوره د غــم خــاني راغلــه
اوس پېرزروئنــې د ســپرلي تــه ده خبـره پــاتې
تــا لــه د ګــل شُـوکول، مــا لــه بــاغواني راغلــه
کوم ځائے به ځان په دې وحشت کښې د انسان ګوري
کــۀ تماشــې لــه د ځــوانۍ چرتــه ځــواني راغلــه
يو خوا په ګرانه پېدا کېږي په سرو کښې سرے
بــل خــوا وژلــو د انســان کښــې اســاني راغلــه
جانانــه خيــال دې د رنګونــو د وږمــو رود دے
زمــا غــزل، زمــا بيــان کښــې روانــي راغلــه

## د جهان په نقشه

**نسيم ستورے**

په ژوند نن خوشحالي ده چې دا نوم رسمي اعلان شو
د مينې ګلستان کښې دغه نوم مو د خپل ځان شو
زخمي زړګے د قام شو په دې نوم باندې ټکور اوس
ژوندون د خپلواکۍ کښې چې دا نوم د خپل جانان شو
نېکمرغــه دا نامــه ده مبـــارک او بختـــوره
ښائست ښکلا ګډېږي محبت کور هم ودان شو
جونګړه د پښتـــون تـل د تاريـخ پـاڼې عنـوان هم
قامونو سره سيال شو چې دا نوم د زړۀ درمـان شو
تـړون د محبت ؤ پښتونخـوا نـوم چـې رسـمي شو
په نوم د خپلې خاورې تل خپل نوم هم ترجمان شو
نسيم ستوري به تل هم په خوبونو کښې ليدلـه
د خوب ليدل رښتيا اوس په نقشه کښې د جهان شو

**پروفېسر محمد اسلام ارماني**

په توره شپه کښې څومره خوند کړي د رڼا تصور
خدايه په خپل فضل رښتيا کړې زما دا تصور
ماتــه پــه جــار وو ايــئ اې پښتنو خپلــه نامــه
تاسو بـه څـو پـورې کـوئ د پښتونخوا تصور
خلق پـه خـوب کښـې وينـې تـل د آزادۍ خوبونـه
مــونږه پــه ويښــه چرتــه ونــۀ کړلــو دا تصــور
دښـمن ده لوبــه جــوړه کـړې د اسـلام او کفــر
يو ورور لګيا دے، بل ورور وژني په وېريا تصور
وخت ځي په منډه د هېچا لحاظ خاطر نۀ کوي
وينښ شئ راپاڅئ د وطن مو وکړئ بيا تصور
په دې حالاتو کښې به دواړه يو بل څۀ ووينو
بـس تـۀ زمـا کـوه او زۀ بـه کړمـه سـتا تصـور
خدايه کړې کړې پښتون په يو زنځير راغونډ کړې
د ارمـــاني د دې نــه بــل نشــته رښــتيا تصــور

## مارټن لوتهر ګنګ

### ته په ډېره مینه

محمد الیاس

د خوبه وېښ شه سترګې وغړوه
نوے سحر نوې دنیا ووینه
څۀ په ډېر ناز سپینې مانۍ ته روان
مسکے مسکے تۀ اوباما ووینه
دا سپین او تور ورپسې دواړه ولاړ
د امریکې نوے امام وګوره
دا سپین او تور یو بل له غاړه ورکړه
ورک د وختونو زوړ نظام وګوره

زخمي زړګے خو دې لږ وخندوه
د سپرلي زېرے دے سحر راوړے
ستا د ارمان ناوې سرځنه کوي
د سبا ستورې دې اختر راوړے

ګرانه راپاڅه تماشه خو وکړه
تور اوباما سپینې مانۍ ته روان
د زړۀ ارمان خو دې پوره شو کنه
د واشنګټن لوړې کرسۍ ته روان

لیدلے خوب خو دې رښتیا شو کنه
د رنګ او نسل بُت فنا شو کنه

***

## جانان او وطن

ظفر علي ظفر

دا دې زلفې راخورې دي — په کاله کښې مو تیارې دي
کۀ وربځې تورې تورې — تشې تورې مو ډېوې دي
کۀ د هجر تورې شپې دي — اننګې دې سرۀ ګلونه
کۀ نصیب کښې مو تیارې دي — ستاد شونډو شوخ رنګونه
صراحي هسې غړۍ دې — دا ښائسته ښائسته کورونه
لکه غر د تاترې وي — دا بنګلې او جائېدادونه
لکه هسک د بولان سروي — احسان مند زما د مینې
لکه خوکه د خېبر وي — منت بار زما د وینې
عجیبه اتفاقات دي — ستاد شونډو په سرخو کښې
څۀ لمبه لمبه حالات دي — هم زما د زړۀ قطرې دي
کۀ بچې مو د خېبر دي — بنیادونو د بنګلو کښې
کۀ زلمي د پېښور دي — زما وینې او خولې دي
مزدورۍ کوي نهر دي — نۀ مې ستا اننګې ښکل کړۀ
در په در خاورې په سر دي — نۀ د سرو شونډو سرونه
نۀ مو تۀ غاړه غړۍ کړې — نۀ مې پټ په لوپټو کړۀ
نۀ مو ختمې غریبۍ کړې — دا سر تور سر تور سرونه
نۀ مو دا نظام بدل کړۀ — نۀ پوره مې د مور پلار کړۀ
کۀ هڅونه مو پرې دل کړۀ — نۀ د خویندو ارمانونه
پلوشې د اباسین دي — مروره محبوبا به
ستا د سترګو رڼاګانې — خدایه! کله راپخلا شي
په ښېګړه مو رانۀ غلې — د دې تکې تورې شپې به
ستا نیازبینې اداګانې — خدایه! کله سبا راشي
ستا د سترګو رڼاګانې — مرور یار چې پخلا شي
تل اغیارو ته خندېږي — هم بدل چې دا نظام وي
پلوشې د اباسین خو — اے ظفره! مونږ به نۀ یو
په پردي کور کښې بلېږي — د ژوندون به مو ماښام وي

## اقبال مومند

خوش پرست يمه په درد او په غم مرمه
زۀ د ګل د رژېدو سره سم مرمه
زۀ پخوا هم د قلم په سر په دار وم
زۀ لا اوس هم په حُرمت د قلم مرمه
نور د امن په طلب کښې چرته لاړ شم
د جومات په احاطه کښې په بم مرمه
زۀ د وخت د يزيد ظلم را ژوندے کړم
هم مُسکے لکه حسېن يمه هم مرمه
د دې ښار د ډوبېدو راسره غم دے
ګنې خپله خو قدم په قدم مرمه
اوس خو هېڅ بې له قراره لاره نشته
خو حلقې نه د يارانو کۀ ځم مرمه
هره ورځ مې ستا د زلفو فکر وژنې
هره شپه په دغه پېچ او په خم مرمه

## اکبر سيال

په اسمانه تا د تندرونو لوبې ونۀ کړې
تا د غاصبانو په سرونو لوبې ونۀ کړې

داسې دم ختلي خو د دې وطن ځلمي نۀ وو
ولې لېونو په زنځيرونو لوبې ونۀ کړې

داسې چا کافر د محبت لړونه وشلول
بيا د وطن پېغلو په ټالونو لوبې ونۀ کړې

ښکليه ستا د سترګو د بنو نه ګيله من يمه
درد مې د احساس په پرهرونو لوبې ونۀ کړې

سياله دغه يو ارمان مې پاتې شو د زړۀ په سر
سترګو مې د سترګو په جنګونو لوبې ونۀ کړې

## عطاء الله جان

تر څو به خوار و زار او در په در وي پښتانۀ
تر څو به داسې تس نس، کور و کر وي پښتانۀ

تر څو به پښتانۀ په پښتنو وهلے کېږي
تر څو به د خپل ځان سره په شر وي پښتانۀ

تر څو به وي د رزق په لټون کښې سرګردانه
تر څو به له خپل کوره مسافر وي پښتانۀ

تر څو پورې به پاتې وي د سېل نه د قامونو
تر څو پورې به داسې بې وزر وي پښتانۀ

تر څو به ئې د سرو او سپينو واک د بل په لاس وي
تر څو به په خپل شتۀ کور کښې نهر وي پښتانۀ

تر څو به د حالاتو په تيارۀ کُومي کښې اوسي
تر څو به ناست په طمع د سحر وي پښتانۀ

تر څو به ئې کتاب او د قلم سره وي ورانه
تر څو به د علمونو نه منکر وي پښتانۀ

تر څو به کړي جنګونه، دښمنئ او تربګنئ هم
تر څو به په دې خوشو لارو سر وي پښتانۀ

تر څو به د بارودو په سور اور کښې لمبه کېږي
تر څو به "جنګيالي" او "ترهه ګر" وي پښتانۀ

تر څو به وهي خپلې پښې په خپل تبر په خپله
تر څو به په وجود پرهر پرهر وي پښتانۀ

تر څو به ئې دا خلق په هنر هنر تېر باسي
تر څو پورې به داسې بې هنر وي پښتانۀ

تر څو پورې به جانه په پردو تېلو کښې سوزي
تر څو پورې به داسې "زورور" وي پښتانۀ